هاري                                                واشنګټن   ۱۸/۰۸/۲۰۰۹

# په کندهار او جنوبي سيمو کي انتخابات

په افغاني مطبوعاتو او مجلسونوکي په جنوبي سيمو کي د انتخاباتو پر اهميت باندي ډيري خبري کيږي. واقعا، مسله ډيره مهمه ده، او په هيواد کي د سياسي او نظامي بحران يو مهم اړخ تشکيلوي.  ايا د امنيت په نه شتون کي انتخابات امکان لري؟ ايا تر برچي  او ډار لاندي ازاد ، شفاف ، او منصفانه انتخابات کيداى سي؟  که چيري د جنوب خلک انتخابات بيکاټ او تحريم  کړي، دا به د انتخاباتو پر مشروعيت باندي څه اغيزه وښندي؟ او باالاخره، ايا په انتخاباتو کي څونه ټکي برګي ممکنه او د زغملو وړ ده؟  دا هغه سوالونه دي چي زياتره افغانان ورسره مخامخ سوي دي. همدي پوښتنو په هکله  پر دوو ريپوټونو پيښ سوم چي زما لپاره ډير جالب او معلوماتي ول، او له خپلو محترمو لوستونکو سره يي شريکول ضروري ګڼم.  هڅه سوې ده چي د دواړو ريپوټونو لنډيز برابر کړم ، خو اصلي او مهم ټکي ساتل سوي دي.  له کندهاره يو ريپوټ د ميرمن کټي ګنان دى.   د ميرمن کټي ګنان په باره کي بايد ووايم چي هغي د افغانستان پر اوضاع باندي يو ګټور کتاب ليکلى دى چي د افغانستان په اړه د غربي ژورناليستانو د وتلو اثارو په جمله کي راځي .  ميرمن ګنان د مجاهدينو، طالبانو، او فيشني غلو په دوران کي له افغانستان څخه پرله پسي ژور او جامع ريپوټونه او تحليلونه خپاره کړي دي.   هغه په افغانستان کي د څو لسيزو کار، ژوند، او تحقيق تجربه لري، او د همدي اوږدي مودي په ترڅ کي يي له افغانانو سره خاصه مينه پيدا کړي ده. ميرمن ګنان د افغانستان په ارتباط د متحده ايالاتو پر پاليسيو باندي واقعي او دقيق انتقادونه کوي، او د پښتنو په مقابل کي د بش او  حامد کرزي  اقدامات او پاليسى خطرناکه بولي. هغه وايي همدي لمړنيو اشتباهاتو ننني ستونزي وزيږولي.

د ګارډين اخبار د اګسټ پر ۱۶ مه  له کندهار ه په يوه اوږده ريپورټ کي ليکي د افغانستان د جمهوري رياست دوهم تاريخي انتخابات پداسي وخت کي کيږي چي له يوې خوا په جنوب او پښتني سيمو کي  طالبانو پر انتخاباتو بنديز لګولى دى او رايه ورکونکي  په مرګ ژوبله تهديدوي، او له   بلي خوا، په کندهار او  هلمند کي د امريکايانو او انګريزيانو پرخلاف ښورښ او جنګ تاوو اخلي. په کابل او کندهار کي د طالبانو ځانمرګي بمونو له انتخاباتو څخه خلک ويډارول .  د کندهار د ولايتي  شورا مرستيال، محمد احسان ، وايي "اوس د انتخاباتو لپاره مناسب وخت ندى." د کندهار د ښار په ميرويس روغتون کي، د انتخاباتو د مرګ ژوبلي لپاره خاص تيارى نيولى سوى دى.  د کندهار د ګوتو په شمار خارجي اوسيدونکو پخوا لا ښار پري ايښى دى.  د ملګرو ملتونو او نورو خيريه موسسو يوازى عاجل او ضروري کارګران  حاضر او کار کوي.  د  ښار په فضا کي تاوتريخوالى او تشنج له ورايه ښکاري.  هر افغان پدې پوهيږي چي ددې اونى په انتخاباتو کي يوه مهمه ډله نده شامله.

ښاغلى احسان وايي، "زما له کوره فقط دوه کيلومتره ها خواته طالبان خلکو ته وايي چي انتخابات تحريم او بيکاټ کړئ.  د رايه ورکولو پر وخت ستاسو لپاره د امنيت هيڅ  ضمانت نسته."

د کندهار  د دوبي ګرمي  دوبرخي ده .  په ښارکي  سور اهاړ  وى او لمر مځکه پخوي.  خو د پنجشنبي  انتخابات د کندهار لپاره حياتى اهميت لرى.  په ۱۹۹۴ کي ملاعمر له همدې ځايه  خپل سياسي قدرت خور کړ.  ځيني مبصرين وايي ډير ژر به کندهار يو ځل بيا د طالبانو مرکز سي.  خو اوس حامد کرزى مجبوره دى چي له همدې ناکراري سيمي څخه ډيري  رايي راغونډي کړي، ځکه په شمال کي تاجيک او نور اقليتونه  د هغه رقيبانو ته رايه ورکوي.  د کندهار نفوس ۴۵۰۰۰۰ دى.  حامد کرزى مجبوره دى چي ۵۰  فيصده رايى وګټي څو د دوهم پړاو له خطر او کندي څخه ځان بچ کړي.  د عامه افکارو وروستى سروې ښيي چي ټاکلي فيصده نسي پوره کولاى.

حامد کرزى مجبوره دى چي په جنوب کي خلک پدې قانع کړي چي د هغه راتلونکى حکومت به د پخوا په شاني فاسد، لټ، او بيکاره نوي.   د شمال په شان، په کندهار کي زيات خلک وايي چي دوى به حامد کرزي ته رايه ور نه کړي.  هغه پخپل ښار کي منفور دى او زياتره  خلک يي د اته کلني بدمرغيو او بد امنيو مسول بولي.

د ګارډين اخبار ليکي د کندهار د غورک ولسوالي قومي مشر، ښاغلى عبدالرحمان وايي، "خپله جمهورريس لويه ستونزه  نده ، خو ورور يي پرابلوم دى."  د هغه مطلب احمد ولي کرزى دى چي هم د کندهار د ولايتي شورا ريس دى او هم په جنوب کي د حامد کرزي د انتخاباتي کمپين مدير او مينجر دى.
هغه په حکومت کي په خويشخورى ، نيوتيزم، او د مخدره موادو په قاچاق تورن دى.  ځينى محلي خلک وايي  هغه د خپل ورور نوم او نښان ته زياته صدمه رسولي ده.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکارى دعوت مى نمايد. لطفاً  به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

د الکوزو یو قومی مشر، محمد عسکر، وایي، "هغه په هر قوم کي ځینی خلک د ځان سره ملګري کوي، او بیا هغوی تقویه کوي، او وروسته د هغوی په مرسته په قوم کي صادق او پاک قومي مشران بندي کوي. بل دا چي هغه د هر چا په چارو کي مداخله کوي." هغه وایي حتی اکثره پوېلزیان به د حامد او احمد ولي کرزي پر خلاف رایه ورکړي. ښاغلی محمد عسکر زیاتوي، " نه والي صاحب د خبرو کولو جرات لری، نه ریسان، او نه هم د ولایتي شورا غړي."

ښاغلی احمد ولی کرزی پخپل کور کي چي جنګي کلا ته ورته ده د غرمي د ډوډۍ په جریان کي د خپل ورور د کامیابۍ په باب مطمیني خبري کوي. هغه وایي، "زه د رایو په ارتباط اندېښمن نه یم. خلک پوهېږي چي تشدد او مرګ ژوبله د جمهورریس کرزي ګناه نده. " مګر هغه وایي، "د کمپین لپاره یو ستر چلنج د طالبانو تشدد او جنګونه دي، او همدا خلک له رایه ورکولو څخه منع کوي." مستقل مبصرین وایي د کندهار له ۱۷ ولسوالیو څخه په دریو ولسوالیو کي د انتخاباتو لپاره په کافی اندازه امنیتی شرایط برابر ندي. په ټول هېواد کي به د رایه اچولو له ۷۰۰۰ مرکزونو څخه په ۷۰۰ کي رایه ور نه کړه سي.

د ګاړدین ورځپانه وایي ښاغلي احمد ولي کرزی د طالبانو له محلي قومندانانو څخه غوارۍ چي د ملاعمر امر عملي نه کړي او خلکو ته اجازه ورکړي چي رایه ورکړي. هغه پخپلو خبرو کي د ډاکټر عبدالله د بري ډار خوروي. ډاکټر عبدالله تیره اونی کندهار ته د کمپین په مقصد ورغلی وو. د ډاکټر عبدالله کمپین ته ۱۵۰۰ تنه ورغلی ول او ټولو وېناوالو هڅه کوله چي هغه د جنوب بڅی وبولي. ډاکټر عبدالله په کندهار کي زیږېدلی دی، خو کم وخت هلته اوسېدلی دی. یو وینا وال چي په چکچکو بدرګه کېده وویل، " په بحراني شرایطو کي تل یوه کندهاری مشر زموږ مشري کړې ده، اوس یو ځل بیا یو بل کندهاری راغلی دی، او هغه غواړي چي په هېواد کي سوله او ثبات ټینګ کړي."

امنیتی ماهران وایي د کندهار په هره ساحه کي طالبان نفوذ او محسوس حضور لري، او ورو ورو د ګرده ښار کنټرول تر لاسه کوي. په ښار کي دلته او هلته او کله نا کله یو ټانک یا پوځي کاروان تېرسي، خو په عمومي توګه عسکر او پولیس چندان نه ښکاري او ټول خارجي او داخلي عسکر او مامورین په خپلو مستحکمو او جنګي کلاوو کي خزه دي. د ښار په اسمان کي غټ بالون چي کامرې پکښي نصبي دي ګرځي را ګرځي.

د کندهار د ولایت شورا غړی حاجی احسان په انتخاباتو کي د خلکو د پراخ ګډون په اړه چندان خوشبین ندی. هغه وایي که چیري طالبان د انتخاباتو په ارتباط ژر تر ژره خپله پالیسي بدله نکړي، ډېر کم خلک به برخه پکښي واخلي.

ګاړدین ادامه ورکوي او لیکي له یوې خوا د طالبانو تهدید او د بلي خوا له انتخاباتو سره د خلکو بیکاټ به د حامد کرزي انتخاباتي مشین دېته اړ باسي چي په پیخر ټګي برګي او تقلب وکړي. همدا اوس په کندهار کي د ښځو په نامه بېشماره کارډونه وېشل کېږي. په اکثرو ځایونو کي نارینو د ښځو لپاره کارډونه اخیستي دي او محلي دودونه او د امنیت نشته والی د ښځو د نه راایستلو پلمه کوي. یوه تحقیقاتي موسسه وایي څه د پاسه درې میلونه راجستر سوي رایه ورکونکي اصلاً سته نه. په زرهاوو د راجستر کارډونه له هغو خلکو څخه پیسو اخیستل سوي دي.

د انتخاباتو په ورځ به امنیت ډېر حیاتی رول ولري، ځکه حتی که چیري په ځینو ځایونو کي د رایه اچولو مرکزونه پرانیستل هم سي، ښایي خلک د ورتګ جرات ونه کړي. ځو میاشتي کېږي چي امریکایي مامورین د انتخاباتو د شفافیت او ازادۍ په هلکه د عامه خلکو توقعات راکښته کوي. یو خارجي ماهر وایي، " په هروانتخاباتو کي څه تقلب او درغلي خامخا وي، خو خبره دا ده چي څونه؟"

ګاړدین لیکي بده به داوي چي دلته هم د ایران غوندي په زرهاوو افغانان کوڅو او بازارونوته راووځي اود غلا سوي انتخاباتو پر ضد شعارونه ور کړي.

تېره اونی یو ښکلی ماښام حاجي احسان په خپل باغ کي د کندهار د ښپي یخ شمال ته ناست وو. هغه اټکل کاوه چي قومي او سیمه ایز مسایل به پر نورو وفاداریو غالبه وکړي. هغه غواړي چي حامد کرزي ته رایه ورکړي. مګر هغه په افسوس وویل، "که رشتیا ووایم، زما رمضان بشردوست خوښېږي. هغه فاسد ندی، او لاسونه یې په وینو ندي لړلي. هغه ښه او سالم حکومت غواړي، او کله چي د پلان وزیر وو په صداقت او ایمانداری یې خدمت کاوه. مګر هغه هزاره دی او افغانستان یوه قومي ټولنه ده. هغه خوار هیڅ چانس نلري."

د حاجی احسان څرګندوني به د حامد کرزي لپاره ډېري خوندوري او خوږې نه وي، خو په موجوده حالاتو کي همدا زړه نا زړه پلویان هم غنیمت دي.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بلخوا، د اسوشیټیډ پریس مشهوره ژورنالیسته او لیکواله، کتي ګنان، د اګسټ پر ۱۵ له کندهاره پخپل جالب رپوټ کي لیکي پنځه کاله پخوا ۳۰ کلن عنایت الله خان حامد کرزي ته نه یوازي رایه ورکړه بلکي د هغه لپاره کمپین لا هم کاوه. مګر اوس وایي ګردسره په انتخاباتو کي برخه نه اخلي. "زه اوس پوهه سوم چي یوه کمزوري او فاسد حکومت د طالبانو د بیا راتګ لاره اواره کړه. زه به رایه ور نه کړم. چا ته رایه ورکړم؟ ټول حکومت اداری فساد په سر اخیستی دی. یو هم پاک او سالم ندی."

د انتخاباتو د مشروعیت لپاره د جنوب د خلکو ګډون حیاتی اهمیت لري. حامد کرزی مجبوره دی چی دلته ډېري رایي وګټي. دا پښتني ناکراره سیمي دي.

خو مشکل دا دی چي هیچا ته معلومه نده چي په جنوب کي به څونه خلک رایه ورکړي. ددې منطقو خلک د حامد کرزي حکومت فاسد او کمزوری ګڼي او په زیاتېدونکې توګه له طالبانو سره ملګري کېږي. طالبان هم درګرده د انتخاباتو پر خلاف اعلامیې صادروي.

عنایت الله خان د موسی کلا دی او وایي طالبان څکه غښتلی دی چي په سیمه کي د عادي خلکو د ژواندنه د ښه کولو لپاره هیڅ ندي سوي. افغانستان په نړی کي تر ټولو غریب هېواد دی. هغه زیاتوي، "د بین المللي ټولني پیسې د حکومت په جېب کي ورکېږي. اوس زه ویلای سم چي ۹۵ فیصده خلک د طالبانو پلویان دي." عنایت الله خان چي خپل غوږ ګروي وایي طالبان تهدیدکوي چي د رایه ورکونو رنګه ګوتي او غوږونه او پزي به پرې کړي.

ځایي اوسېدونکي وایي طالبان په کلیو او ښارګوټو کي شبنامې خپوروي او خلک په انتخاباتو کي نه ګډون ته وربلي. هغوی د حامد کرزي حکومت د امریکا ګوډاګی ګڼي، او ړنګولو ته یې ملاتړلې ده. په جنوب کي د حکومت کنټرول نسته، او د انتخاباتو امنیت نه سی ساتلای. د جنوب په پنځو ولایتونو کي په زیاتره ولسوالیو کي طالبان پوره تسلط لري.

د سیمي د پولیسو مشر، جنرال غلام علي وحدت، ژمنه کوي چي په کندهار، هلمند، نېمروز، روزګان، او زابل کي به د هغه پولیس د ۶۲۶ رایه اچولو مرکزونو امنیت وساتي. مګر کله چي بحث د طالبانو او پولیسو د وسلو د مقایسې په باره کي کېږي، د جنرال صاحب جرات لړزان او رنګ پیکه کېږي. هغه په کندهار کي پخپل مستحکم او کلابند دفتر کي چي شاوخوا اغزن سیمونه، سیمټي دیوالونه، پیره داران، او دوه درې ځایه ځنځرونه او تلاښۍ پر را ګرځېدلي دي وایي، "موږ یوازي اې کې – ۴۷ توپکان لرو او مهمات مو هم لږ دي. خو طالبان نوي وسلې او په کافي اندازه مهمات هم لري. صاحبه، موږ حتی کافي مرمۍ هم نلرو."

په کندهار کي د انتخاباتو د کمیسیون افسر، محمد قاهر واصفي وایي د کندهار د غورک او میانشین په ولسوالیو کي طالبان مطلق تسلط لری او هلته انتخابات ناممکن دي.

خو ښاغلي احمدولي کرزی چي په کندهار او جنوب کي خپل ورور ته کمپین کوي وایي ۶۰ فیصده خلک به په انتخاباتو برخه واخلي. ښاغلي احمد ولي کرزی چي پخپلي جنګي کلا کي د محافظین په مینځ کي ناست دی وایي، " دا اروپا نده چي یوه پېښه وسي او هر څوک په منډه منډه وتښتي او په کورونو کي پټ سي. دلته ستره ځانمرګي حمله وسي، خو نیم ساعته وروسته هر سړی بېرته په بازار کي پخپل عادي ژوند لګیاوي."

حاجی همایون سلیمانخیل چي په جنوب کي یې قوم زیات قوت لري وایي رایه به ور نه کړي. هغه دا فیصله د طالبانو دتهدید په خاطر نده کړې. "زه له طالبانو څخه نه ډارېږم. زه له حکومت څخه خوابدی او خپه یم. حکومت ته په میلیارډو ډالره پلاس ورغلل، خو هغوی تر اوسه پوري کندهار ته برق ندی راوستی." هغه شاوخوا وکتل او وې ویل، "ګرده قومي مشران په قهر او غوسه دي."


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de